**مطبوعاتي اعلامیه**

**د النګ ابن شکریون او Harakahdaily.net له لوري پر حزب التحریر د تور پورې کولو پر وړاندې غبرګون**

د لومړي ځل لپاره د حاکمو احزابو له ګډون وروسته، د مالیزیا اسلامي ګوند (PAS) رسمي وېبپاڼه harakahdaily.net د النګ ابن شکریون په نوم د لیکوال یوه مقاله خپره کړه، چې په حزب التحریر یې تور پورې کړی و. دا مقاله چې د ۲۰۲۰م کال، د مې په ۱۹مه خپره شوې سرلیک یې و، الکحفي: په آخر وخت کې د دجال له فتنې څخه خلاصون (۵۹) لیکوال په پیل کې وایي د یهودانو او عیسویانو اجنډا چې غواړي مسلمانان منحرف کړي. بیا وایي:

"د دې عمر په پای کې انحراف، نور د نوي مذهب په بڼه نه دی، بلکې د دوو افراطي قطبونو تر منځ د تحریف ایډیالوژۍ په بڼه ډېر خلاص یا هم ډېر کلک دی. لومړی، د اسلام دوښمن په اسلام کې انفرادي ایډیالوژۍ ته کار، تبلیغ او ملاتړ کوي چې طبیعت یې راډیکال او له تاوتریخوالي ډک دی. هغه څوک چې نه پوهېږي، جاهل دي هغوی له دې نظریې ډېر اغیزمن کېږي. په پایله کې، د حزب التحریر او داعش پلویان په ټوله نړۍ کې راپورته کېږي."

د ۲۰۲۰م کال د مې په ۲۲مه د مقالې له لوستلو وروسته، موږ د النګ ابن شکریون فېسبوک پاڼې ته یو لنډ پیغام ولېږه، چې له خپلې مقالې څخه ژر تر ژره هغه پاراګراف لیرې کړي چې پر حزب التحریر یې تور پورې کړی و او موږ به یې د یوه مسلمان په حیث وبښو. له بده مرغه هغه تر اوسه پورې داسې نه دي کړي، نو ځکه موږ غواړو چې ووایو:

۱. څه چې النګ ابن شکریون لیکلي او حزب التحریر یې له انحراف، انحصار، سخت دریځۍ او تاوتریخوالي ایډیالوژۍ سره تړلی، چې د اسلام د دوښمنانو له لوري تمویلېږي. دا ټول بې اساسه تورونه دي چې په حقیقت کې په حزب التحریر پورې تړل کېږي. موږ په دې مساله کې د حزب التحریر په اړه د لیکوال جعل کاري او ناپوهي نه په ګوته کوو، مګر دومره وایو چې د حزب التحریر په اړه معلومات نه یوازې زموږ له وېبپاڼې څخه په اسانۍ تر لاسه کېدلی شي. ان زموږ له مشرانو او غړو سره په مالیزیا کې له نیږدې هم کتلی شي، تر څو لیکوال وکولای شي تایید کړي او زموږ په اړه باوري معلومات تر لاسه کړي.

همدا راز، د حزب التحرير په اړه بېلا بېل فعاليتونه شته، چې کېدای شي په اسانۍ او مستقيم تر لاسه شي. له بده مرغه، ليکوال د تاييد پر ځای، پر حزب التحرير په درواغو او جعل سره تور پورې کړی او غواړي نوم يې بد کړي.

۲. د حزب التحرير پلويان په ناپوهۍ، افراطيت، تشدد او د انحرافي اجنډا څخه پر اغيزمن کېدو تورنول ـچې د اسلام د دښمنانو له لوري تر سره کېږي ـ دا ټول جدي تورونه دي او له حقيقت سره په ټکر کې دي. که څه هم د «راډيکال» کلمه بې طرفه مفهوم لري، مگر ليکوال يې دلته په کلکه په منفي ډول وړاندې کوي، يوازې پرېږدئ چې د «راډيکال» تور پورې کول له افراطيت او تاوتريخوالي سره يو ځای شي. موږ له کفارو څخه چې د اسلام دښمنان دي، تعجب نه کوو چې داسې تورونه پورې کړي، لکه څنگه چې موږ تر دې دمه له شرق او غرب څخه د کفارو له داسې تورونو سره مخامخ يو. په هر صورت دا موږ ته دې ډېر تعجب ځای دی چې دا ډول تورونه د مسلمانانو له لوري پورې کېږي چې د کفارو له غږ سره توپير نه لري او اوس له يو اړخ څخه د حزب التحرير پر وړاندې پورته کېږي.

له بل اړخه، دا ډېر د تاسف ځای دی چې النگ شکريون له حقيقت څخه نه دی خبر، چې د اسلام د دښمن (غرب) له لوري راوړل شوی ربښتينې انحصاري ايډيالوژي پانگوال نظام دی، هغه ايډيالوژي چې د سيکولريزم له عقيدې څخه راوتلې ده. دا د بشر د لاس جوړه شوې ايډيالوژي ده، چې ډموکراسي يې وزيږوله، په خپله يو شيطاني نظام او يو فاسد حاکم نظام يې رامنځ ته کړی، چې د غرب له لوري پر ټولو اسلامي هېوادونو پلورل کېږي. څومره اسلامي خوځښتونه بيا د غرب په لومو کې راگير شوي، په دې توگه د ډموکراسۍ لپاره کار کوي چې په ښکار ډول د اسلام خلاف کار دی. دا د ډموکراټيک نظام ايډيالوژي (پانگوال نظام) دی، چې ډېری خلک يې له لارې ايستلي او ايمان پرې لري. حزب التحرير د پانگوال نظام له ايډيالوژۍ او له هغه څخه د رامنځ ته شوي ډموکراټيک نظام مخالف دی، چې له پيل راهيسې د مسلمانانو د گمراه کولو لپاره يوه غربي اجنډا ده. دا د دې له امله چې د اسلام دښمنان تر هغې کچې د حزب التحرير سره دښمني لري، چې د شرق او غرب کفار او له هغوی سره مسلمان حکام د حزب التحرير د دعوت پر وړاندې خنډونه جوړوي. د حزب التحرير غړي نيسي او زندانونو ته يې اچوي، حتی وژني يې. په ډېر تاسف سره چې النگ ابن شکريون د حزب التحرير پلويان په دې تورن کړي دي، چې دوی د اسلام د دښمنانو له لوري د راوستل شوې فاسدې ايډيالوژۍ تر اغيز لاندې دي! چې د اسلام دښمنان څاري ـ ايا حزب التحرير د هر اړخيز اسلام د رامنځ ته کولو لپاره کار کوي، يا هغه څوک چې د پانگوالۍ ايډيالوژۍ او د غرب له لوري جوړ شوی ډموکراټيک نظام مني؟

۳. د حزب التحرير پلويان له داعش سره په يوه کربښه کې بلل، يو ځل بيا د ليکوال کينه او ناپوهي څرگندوي. هغه څنگه د حزب التحرير او داعش په توپير نه پوهېږي چې حتی ړوند هم پرې پوهېږي!؟ که هغه د حزب

التحریر پرمختګ وځاري، نو هغه به یقیناً د حزب التحریر او داعش تر منځ پر توپیر وپوهېږي، چې د ځمکې او اسمان په څېر دی. لکه څنګه چې نوره نړۍ پوهېږي چې حزب التحریر څوک دي او د دوی تر منځ توپیرونه څه دي، نو ځکه موږ باید دلته ډېر تشریح نه کړو، کافي ده چې النګ ابن شکریون د حزب التحریر په اړه د حقایقو په پلټلو کې کافي ربښتنی وی، نو هغه به یې په اسانۍ تر لاسه کړي وو.

۴. النګ ابن شکریون باید په خپله لیکنه کې عادل او محتاط و اوسي، په ځانګړي ډول کله چې د نورو په اړه وي. هغه باید د لیکلو څخه وړاندې معلومات تر لاسه کړي. پرته له دې چې هغه په قصدي توګه حزب التحریر د خپلو ناوړه بریدونو لپاره په نښه کړي، بیا د هغه لپاره دا منطقي ده چې په دې ډول لیکنه وکړي. حتی که له الله سبحانه و تعالی څخه نه شرمېږئ، له خلکو وشرمېږئ چې د یو نړیوال اسلامي حزب پر وړاندې د دروغ لیکئ، چې د نړۍ په کچه پېژندل شوی حزب دی او د هغه څه سره په ټکر کې دی چې تاسو څرګند کړي دي!

هغه څه چې ډېر خواشینوونکي دي هغه دا دي چې دا افتراضي مقاله د harakahdaily.net له لوري خپره شوې، چې د مالیزیا اسلامي ګوند (PAS) رسمي ژبه بلل کېږي او ادعا کوي چې دوی د اسلام لپاره کار کوي. لکه څنګه چې د harakahdaily.net باید د هرې مقالې په خپرولو کې ډېر محتاط و، باید ډاډ تر لاسه کړي چې د هرې لیکنې منځپانګه د نورو نوم بد نه کړي. ښایي د مالیزیا اسلامي ګوند (PAS) تل د (تبین) مفهوم باندې عمل وکړي، وړاندې له دې چې د حزب التحریر په اړه د النګ ابن شکریون ناوړه او افتراضي لیکنې خپرې کړې.

**لیکوال ته**: موږ دلته یو ځل بیا له تاسو غواړو چې ژر تر ژره هغه څه بېرته واخلئ چې تاسو د حزب التحریر په اړه لیکلي و او موږ ستونزه نه لرو چې ستاسو د تېروتنې له امله تاسو ته ښښنه وکړو، ځکه چې د یو مومن غوره چلند دخپل ورور ښښل دي. Harakahdaily.net ته: مهرباني وکړئ ژر تر ژره ستاسو له وېب پاڼې څخه افتراضي متن لیري کړئ. موږ هڅه کوو چې پر تاسو ښه ګمان (حسن ظن) وکړو ، چې تاسو د لیکوال له لوري افتراضي لیکنه نه ده کتلې. نو ځکه ژر تر ژره اقدام وکړئ یا هم د دې مطبوعاتي اعلامیې له تر لاسه کولو وروسته یې تصحیح کړئ. که تاسو دواړه دا کار وکړئ دا به ستاسو لپاره غوره وي او الله سبحانه و تعالی به تاسو وبښي. په هر صورت که تاسو یې ساتلو ته دوام ورکړئ، نو بیا به موږ ستاسو موضوع الله سبحانه و تعالی ته پرېږدو، په عین وخت کې، غواړو یادونه وکړو چې موږ ستاسو ربښتنینې څېره پېژنو چې څه وخت د همدې سیکولر حکومت برخه ګرځېدلي یئ!

**عبدالحکیم عثمان**

**د حزب التحرير- ولايه ماليزيا وياند**

**۱۴۴۱ هـ.ق د شوال ٦مه**

**۲۰۲۰م د مې ۲۸مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۰۸**